## مطبوعاتي اعلامیه

## ﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ﴾

### «یوازې مومنان یو د بل ورونه دي»

(ژباړه)

وروسته له هغې چې د عوني خوځښت وزیرانو د کار له وزارت سره د سوریې د مهاجرینو په ځورولو کې سیالي وکړه ... د دې خبرې په پوهېدو چې د فلسطین خلک وروسته له دې چې د یهودو دولت دوی آواره او ځمکې یې ترې غصب کړې، تر اویا کلونو ډېر وخت په لبنان کې وو، د کار وزیر په لبنان کې د فلسطین د خلکو د ځورولو لپاره بلې سیمې ته لاړ. که څه هم د ځینو خوښېږي چې دوی ته بهرنیان وواییي، خو د بشر په لاس جوړ شوو قوانینو له مخې، دوی په دغه هېواد کې د اوسېدو سند لري او بهرنیان نه دي. سره له دې چې د لبنان سیاستوال ادعا کوي چې دوی د یهودو د شتون مخالف دي، نارملایزشن نه ورسره غواړي او له مهاجرو ملاتړ کوي چې خپله خاوره بېرته ونیسي؛ خو د فلسطنیانو پر وړاندې د لبناني چارواکو کړنې، د هغوی د ادعا خلاف دي؛ هلته فلسطینیان د دوی له لوري ځورول کېږي، له لومړنیو حقونو یې بې برخې کړي او غرب خواته کډوالی ته یې اړباسي!

ځینې نژادپال او کینه گر کسان د کډوالو د سپکاوي، ښکنځلو، گواښلو، وېرولو او د شام او فلسطین د آواره مسلمانانو پر وړاندې پاروونکې ویډیوگانې خپروي. خبره ان دې حد ته رسېدلې چې اسلام، مسلمانانو او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته سپکاوی کوي. که څه هم دا خبرې د قانون له مخې جرم دي. موږ دا قدرت نه لرو چې د جگړې جنایتکاره عاملین ونیسو چې د یوې نوې داخلي قومي جگړې لامل نه شی. په ځانگړې توگه د بهرنیو چارو د وزیر خبرې او کړنې، چې مسیحیانو ته د قدرت ورکول غواړي. دوی ادعا کوي چې د اهل سنتو سیاسي فرقه پالنې دوی له دې لارې پټ کړي... ورپسې مسلمانانو ته د ځمکو د نه پلورلو او ان اجارې نه ورکولو په اړه د الحدث ښاروالۍ پرېکړې.

په حزب التحریر-لبنان کې زموږ اوسني وضعیت ته په کتو، چارواکو ته خبرداری ورکوو چې د نژادپالو او کینه گرو له پرېکړو پیروي ونه کړي، هغه که وزیر وي، که ښاروالان او که بل څوک. باید هغه پرېکړه لیکونه لغوه کړي او د هر ډول تجاوز مخه ونیسي. هغو جنایتکارانو ته سزا ورکړي چې زموږ او مهاجرینو له دین څخه ناوړه گټه اخلي. هغوی زموږ ورونه او خویندې دي. موږ به چاته اجازه ورنه کړو، چې هغوی کمزوري او حمله پرې وکړي. دا خو لاپرېږده چې هغوی یې له خپل حق – کار او پانگې – څخه محروم کړي.

موږ د داخلي جگړې د راگرځولو لپاره د ځینو فتنه گرو د هڅو په اړه خبرداری ورکوو. که په دې برخه کې غفلت وشي، نو هېڅ شی به ژوندي پاتې نه شي. موږ د لبنان مسلمانانو ته توصیه کوو، چې د بشار له جنایته خپل مهاجر شوي ورونه مه ځوروئ او نه هم هغه کسان چې د خپلو ویاړونو او مقدساتو لپاره، د یهودي غاصب، وینه څښونکو او متجاوزینو له کبله مهاجر شوي دي. د اسلامیت پر بنسټ وروروليي زموږ د هېواد د بېلېدو له خبرو لوړه ده، په دغه هېواد کې زموږ حق له دوی نه ډېر نه دی.

د لبنان نا مسلمانانو ته وایو: تاسو باید د نژادپالو لاس راټول کړي، د اسلام او مسلمانانو د سپکاوي مخه ونیسئ، هغه که د سوریې وي که د لبنان او که د فلسطین. زموږ او ستاسو پلرونو په دې خاوره کې، له اسلامي قانونو سره سم، پرته له داخلي جگړو او شیطاني فتنو ژوند کاوه؛ دلته مسلمانانو سلگونه کاله تاسو ساتلي یئ او پام یې درته کړی...

تاسو هم د مسلمانانو په یوه داسې سیمه او ملت کې ژوند کوئ، چې د جبري حاکمیت له نظام څخه د خلاصون په لټه کې دی. هغه نظلم چې پر موږ او تاسو تېل شوی. ملت د غرب له تقسیمه وژغورئ او هغه د یوه داسې هېواد تر چتر لاندې راټول کړئ، چې د الله سبحانه وتعالی د قانون تر کنټرول لاندې دی، د ټولو خلکو چارو ته پرته له دې چې مذهب، ملیت یا ژبې ته یې وگورئ، پام وکړئ.

اسلامي امت که د الله سبحانه وتعالی خوښه وه، دغه حالت ته د رسېدو په حال کې دی. نو د امت د حرکت پر وړاندې مه راپورته کېږئ، داسې نه چې د بایلودونکو له ډلې شئ.

**د حزب التحریر۔ ولایه لبنان مطبوعاتي دفتر**

**د صدور ګڼه: H.T.L ۱۴۴۰/۱۲**

**۱۴۴۰هـ ق د ذولقعدې ۱٦مه**

**۲۰۱۹م د جولای ۱۹مه**

**ژباړن: حبیب الله**